استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

عبدالرووف لیوال پنج شنبه ۲۳ جنوری ۲۰۲۰

# کې جي بي د حکمتیار له منګولو والوته



منبع: تاند

سرچینه: زویزدا تلویزیوني چینل

د۱۳۷۱کال د وري په میاشت کې د روسیې د پاتي شونو وروستۍ ډله ترسختو ګواښمنو عملیاتو لاندې له کابله والوته.

د ژغورنې تاریخی، مهم او غلچکی ماموریت:

ښاغلی حکمتیار په دارالامان کې د مجاهدینو د دولت صدراعظم دی، د هغه ځواکونو ته په دریمه کارته کې دنده سپارل شوې چې له خواجه ملا (حبیبیې لیسې) د تلویزیون تر غره پورې، ټولې لارې او سیمې تر بریدونو لاندې ونیسي.

روسیه له هغه نه په زاریو غواړي چې د دیپلوماتیک دود او اصولو له مخې د روسیي سفارت په تاکوئ کې اسیرو روسانو، سفیر او ټپیانو ته اجازه ورکړي چې له سفارته ووځي.

په سفارت کې روسان لګیا دي، د آرشیف مهم او پټ اسناد سوځي د ټپیانو زګېروی هم د دوسیو او کارتنونو د سوزیدو له ځوړ سره مل دی او هلته لیرې هم څو مړی په خوسا کیدو دي.

حکمتیار مني چې د دوو ساعتونو لپاره جګړې ته دمه ورکوي، تر څو دوی له سفارت څخه پښې سپکې کړي، خو لاندې کسان (په حکمتیار پورې اړوند لشکرایثار) چندان په قصه کې نه دی او د جګړې تنور تود دی، خال، خال ډزې روانې دي.

هلته په مسکو کې د اندیښمنو چاروکو خبرې په دې هکله روانې دی چې څرنګه په کابل کې دوه سوه بند روسان له محرم آرشیف سره په داسې حال کې چې جګړه هم روانه ده راوباسي؟

د ځمکې له لارې د دې کسانو راویستل ستونزمن کاروو، ځکه جګړه مارو ډلو هیڅکله داسې غنیمت له لاسه نه ورکاوه.

د مسکو د پچیانو په اند، یوه بله چاره شوني وه او هغه د الوتکو له لارې تر ازبکستانه د کلابندو روسانو راوستل، په دې خاطر دا پټه او مهمه دنده د ترانسپورت ۱۱۰م



هوایي غونډ قومندان زیلینوف ته وسپارل شوه او د دوهمې الوتکې اداره هم پیلوټ اناتولي کوپیرکین کوله.

په لومړی سر کې پتیل شوې وه چې داعملیات ملکي هوابازانو ته وسپارل شی، خو پیلوټان پوهیدل چې دا مرګوني دنده ده، آن تر دې چې د ډاډ لپاره هغوی ته بهرني پاسپورټونه هم په کار ول.

د دې دندې په تړاو زیلیونوف خپل یادښت داسې تازه کوي«هغوی د مخابرې له لارې ماته خبر راکړ چې زه دغونډ قومندان دنده لرم، درې الوتکې د کابل د سفارت د راایستلولپاره چمتوکړم، د نظامی عملیاتو امکان موجود و، خو زموږ سفارت هم د مجاهدینو له لوري محاصره وو ، تر دې مهاله زموږ د پیلوماتانو له جګړه مارانو سره په یوه چل ګوزاره کړې وه.»

د نظامی پیلوټانو د امنیت لپاره د [تولا] د دیسانت کوماندو فرقې سرتیري وګمارل شول، او ټولو کومندویانو ته وویل شول چې خپلې جامې له ځان سره واخلي.

د۱۳۷۱ کال د وږی میاشتې په پنځمه شپه کوماندو کسانو د ازبکستان د (کوکایدا) هوایی ډګر په لور حرکت وکړ، ډګرمن اولیګ استروکوف، چې یو وخت د زیلیونوف ټولیګوال و، حالات له نژدې څارل. ده وویل : د IL الوتکو، الوت به د افغانستان پر فضا تر کنټرول لاندې ولري او په اضطراری مهال به له هغوی سره مرستې ته ورودانګي.

هیڅ رسمی اجازه او لاسوند نه و چې دا الوتکې د افغانستان پر آسمان الوت وکړي.

د وږی د میاشتې په پنځمه په افغانستان کې د روسیې سفیر افګینی اوسترونیکو د خپل سفارت تخلیه اعلان کړه.

د وری د میاشتي په شپږم سهار وختی ۳بجي د سفارت اسیرانو ته سپارښتنه وشوه چي د کابل د هوایی ډګر په لور تللو ته چمتو شي، حکمتیار هغوی ته د دوو ساعتونو لپاره وخت وټاکه تر څو له سیمي څخه پښي سپکي کړي، دوی یوازې اړین توکي موټرو ته وخيژول.
د سهار په درې نیمو بجو د کامازونو او بسونو کتار، چي له سپرلیو ډک وو، د کابل د سړکونو په چوپتیا کي د هوایی ډګر په لور حرکت وکړ، په سر کي د سفیر موټر روان وو، خو د کتار په پای کي له مړو څخه ډک امبولانسونه روان ول، دا کتار په لار کي د چین، شمالی کوریا، منګولیا او اندونیزیا د سفارتونو له مخي تیر شو.
له دې خوا پیلوټ ډګرمن زیلیونوف لومړی کس وو چي الوت ته چمتو کیده – تر کابل پورې هوایی واټن څلویښت دقیقي وو، کهیځ وخته چي جګړه ماران لا له خوبه نه وورا پاڅیدلی، هغوی د حالاتو د ارزوني او د الوتکو د ناستي لپاره وخت ته اړتیالرله، ځکه د کابل په هوایي ډګر کي کوم (دیسپیچر) موجود نه و.
(ایل نو) ترانسپورتي الوتکي د افغانستان، ازبکستان له پولي راواوښتي چي په دې ترڅ کي یوه له اندیښمنوونکي راډیویي پیغام د پیلوتانوغوږونه وتخنول اوهغه هم د الوتکو په لس کیلومتری واټن کي د دوو جنګي جټ الوتکو خبرداری وو.
د نښو نښانو له مخي دا هغه دوه ښکاري جټ (میک۲۱) وې
دا مهال د IL76 الوتکوعمله له بوږنوونکو او ویرجنو شیبو سره مخامخ وه.
ښکاري جټ الوتکو له ګواښوونکو مانورونو ته ادامه ورکوله ـ سره له دې چي څرګنده نه وه چي دا ښکاری الوتکي په چا پورې اړه لري – خو زیګنالونو داسي ښوده چي د جنرال دوستم په ځواکونو پورې اړوندې وې، او هغه چي د شمال واکمن او روسیي ته وفادار و د واکمن په توګه یې طیارې ځارلې.
پیلوټان لا نه پوهیدل چي د جنرال دوستم د روسی د ډیپلوماټانو وتل تر خپل پوښښ لاندې نیولي وو.
همدا شیبه چي د دوو سوو روسي مسافرو قافله د کابل په هوایی ډګر ورننوته په آسمان کي هم لومړی IL76 الوتکه راښکاره شوه، او ورپسي دوې نورې الوتکي هم یو په بلې پسي راڅرګندې شوې، او په همدې شیبو کي د حکمتیار د توغندیو(شغهار) هم تر غوږو شو.
توغندی یواځینی مزاحم نه وو، بلکي د مسکو د هواپیژندني د اداری رپیوټ، چي د هوا فشار یي۶۳۲ ښوده، هم راورسید. خو دوی د تجربي له مخي پوهیدل چي د وری میاشتي په دې مهال د هوا فشار لږ وي – د ګولیو اوریدل پیل شول، شیبه په شیبه حالات ترینګلي کیدل، دوهمه ایلوشن الوتکه هم راکوزه شوه – په همدې وخت کي څلور مرمۍ د هوایی ډګر په ودانۍ ونښتي.
د دوهمي الوتکي د سپریدو پر مهال د حکمتیار توغندي ډیر شول، لومړی الوشن د الوت په حال کي وه چي د سرګی ملینکوف الوتکه پرځغاست لیکه راکوزه شوه.
یواځي څو دقیقي وروسته له هغي چي لومړی الوتکه والوته، نابره یو جیپ چي نهه تنه هندي ډیپلوماتان پکي سپاره ول د اناتولي کوپیرکن د الوتکي د خدمي ترخنګ راکوز شول ـ پیلوټ هغوی ته د رد ځواب ورنه کړ او په تلوار الوتکي ته وختل، دا درنه ترانسپورتی الوتکه روانه شوه او خپل ځای یي دریمي الوتکي ته تش کړ.

په دې وروستۍ الوتکه کې باید سفیر، پاتې دیپلوماتانو او یو کاماز موټر له نورو توکو سره الوت کړای وای خو په همدې مهال یو توغندی د الوتکې د وزره لاندې ولګید– پیلوټان په تلوار د الوتکې د خیټې له کړکۍ راووتل ـ دوه یې ټپیان شوي وو، په الوتکه کې اور ولګېد او ټول له ویرې په چټکیه له الوتکې لرې شول چې الوتکه ونه چوي.
هغه دوهمې الوشن چې وزرونه یې د ځغاست لیکې به سرالوت ته تیار کړي وو – کوپرکین پوهیده چې د الوتکې شاسی ته تاوان نه دی رسیدلی ـ الوتکې ډېر سرعت وانه خیست، د الوتکې ټایر هم د راکټ د پارچو د لګیدو له امله ضربه لیدلې وه خو بیا هم الوتکه والوته.
دوه الوتکې چې ۱۴۰ کسه پکې سپاره ول، له غرونو نه پناه شوې ـ دلته د هوایی ډګر په ځغاست لیکې دریمې الوتکې اور واخیست – له دې سره د کابل په هوایي ډګر کې د پاتې شویو روسانو د ژغورنې امید په اوبو لاهو شو، د روسیې سفیر ۵۸ دیپلوماتان چې څو ښځې هم پکې وې او اته کسه کومندویان دلته پاتې شول (په هغو کې یو مهم ټپی قومندان هم وو)، ټولو د کابل په نمناک او تیاره هوایی ډګر کې په نهیلۍ خپل ناڅرګند برخلیک څاره – د دوستم کسان چې د دوی امنیت ساته، په اوږدو څوکیو څه غځیدلی او څه ناست ول.
هلته وروسته له څلویښتو دقیقو هغه دوه الوتکې د ازبکستان په هوایی ډګر کیناستې ـ سورلۍ یې خوشحاله، څوک نڅیدل، چا خندل او چا اعکسونه اخیستل.
خو مسکو په کابل کې د پاتې کسانو په هکله هیش پیښ پاتې وو چې څه وکړی، کله چې سهار د کابل په غرونو د لمر وړانګې ولګیدې د جنرال دوستم په مرسته درې نورې الوتکې راغلې او پاتې کسان یې د افغانستان شمال ته چې د هغه په ولکه کې وو، ولیږدول ـ چې له ترمزه ها خوا واوړي.